د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف عمومي ریاست

# هنر


ART

## نهم ټولګی



۱۳۹۰ هـ . ش

Ketabton.com



درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري،
په بازار کې یې اخیستل او خرڅول په کلکه منع دي.
له سرغړوونکو سره قانوني چلند کېږي.

ISBN 978-9936-25-064-2

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# هنر
# ART
## نهم ټولګی

د چاپ کال ۱۳۹۰ هـ . ش.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مؤلفان:**

سیدانور میچنخیل دهنرونو د دیپارتمنت علمي غړی

محمد غالب الله یار د هنرونو د دیپارتمنت آمر

**علمي او مسلکي ایډیټ:**

سید انومیچنخیل دهنرونو د دیپارتمنت علمي غړی

**د ژبې ایډیټ:**

مولف محمد سهراب دیدار

**د ایډټ مسلکي کمیټه:**

پوهنمل عبدالحی فرحمند د هنرونو د پوهنځی استاد

**د پوهنې وزارت:**

غلام محمد راهی د هنر د مضمون ښوونکي

عاطفه شبنم عارفي د هنردمضمون ښوونکي

**دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه:**

- مولوي عبدالصبور عربي
- دکتور محمد یوسف نیازی
- حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې.

**د څارنې کمیټه:**

_ دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس مرکز معین.

_ دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول.

_ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.

**طرح او ډیزاین:**

رحمت الله غفاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه يان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوهنې د وزير پيغام

## گرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کېږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځېدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤوليت په ريښتوني توگه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، دوطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړېوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير





# لړلیک


| | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | په رنګه خپو انځورګري | ۱ |
| ۲ | د (معاصر) افغانستان د هنر تاریخ | ۳ |
| ۳ | په مصنوعي موادو ټاپه کول | ۷ |
| ٤ | په ختو کې شبکه جوړونه | ۹ |
| ٥ | د لویدیځ هنر | ۱۳ |
| ٦ | د کلیزې ډیزاین او نقاشي | ۱۷ |
| ۷ | د لویدیځ معاصر هنر | ۲۱ |
| ۸ | له بیکاره کاغذي قطیو لاسي کار جوړول | ۲۵ |
| ۹ | د هنري ډیزاینونو کاپي کول | ۲۷ |
| ۱۰ | د افغانستان له هنري مؤسیسوسره اشنا کیدل | ۲۹ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱۱ | له شعر څخه انځورګري | ۳۱ |
| ۱۲ | له کمپیوټر سره اشنا کیدل | ۳۳ |
| ۱۳ | د یوه ساده میناتور کاپي کول | ۳۷ |
| ۱۴ | د بېلو بېلو سکویونو او ګل ګنډنو سره اشنا کیدل | ۳۹ |
| ۱۵ | د یوه ساده ګل ګنډنې جوړول | ٤۳ |
| ۱٦ | د افغاني هنرمندانو پېژندل | ٤٥ |
| ۱۷ | د قرآني آیتونو برجسته کول | ٤۷ |
| ۱۸ | په نقاشۍ کې د (Paint) له پروګرام استفاده | ٤۹ |
| ۱۹ | د افغانستان له ملي موزیمونو سره اشنا کیدل | ٥۳ |
| | د منابعو فهرست یا سرچینې | ٥٥ |


١



# په رنګه خپو انځور ګري
# ایا تر اوسه مو په رنګه خپو نقاشي کړي ده؟

له نقاشي کولو مخکې خپل کاغذ په خپله خوښه له مینځ څخه قات کړئ. داسې هم کولی شئ چې کاغذ یو یا څو ځایه قات کړئ. بیا کاغذ بیرته خلاص کړئ او په خپله خوښه رنګه خپې چې نه ډیرې ټینګې وي او نه اوبلنې د کاغذ په یوه قات کیږدئ او بیرته یې قات کړئ او لږ څه فشار ورکړئ. کله چې کاغذ خلاص کړئ و به ګورئ چې د پخوانی خپې په شان یوه بله خپه د کاغذ په بل مخ پریوتې ده.

دا کار څو واره په لویو او وړو خپو د کاغذ په بیلو بیلو برخو تکرار کړئ ترڅو د کاغذ د قات کیدو له امله رنګینې خپې منځ ته راشي. بیا لږ څه صبر وکړئ چې رنګ وچ شي. وچیدو وروسته رنګه خپې له هرې خوانه وګورئ او په هغې کې بېل بېل شکلونه پیداکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیایې د خپلې خوښې په انځورونو بشپړ کړئ.
هر څومره شکلونه چې په کې پیداکړئ ستاسې د بریالیتوب نښه ده



(۲ تصویر) د خپلې خوښې خپې د کاغذ پرمخ کیږدئ او صفحه قات کړئ ترڅو په بل مخ هم همغه خپه په کې ایجاد شي



(۳ تصویر) هرې خوانه رنګه خپې ته وګورئ او شنا شکلونه په کې پیداکړئ.
رنګه خپې په شنا شکلونو واړوئ.

## تمرین



د رنګه خپو شکلونه چې په ناڅاپي ډول ایجاد شوي دي، بشپړکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲



# د معاصر افغانستان د هنر تاریخ

## د اوسني او پخواني افغانستان په هنري اثاروکې کوم توپیرونه په ګوته کولی شئ؟

له هندوستان څخه د چاپ د ماشین په راوړلو او د ((ماشین خانې)) (مطبعې) له تاسیس څخه وروسته په کابل کې، د کتابونو، ادبي او تاریخي او نورو رسالو د چاپولو کار پیل شو. د افغانستان لومړنی جریده ((شمس النهار)) په ۱۲۵۲ هـ ش کال کې نشر شوه. د مشروطه غوښتونکو د غورځنګ په وخت کې د افغانستان د خلکو په تاریخ، فرهنګ، ادب کړو اوړو کې لوې بدلونونه څرګند شول چې د هغو له جملې څخه د نویو ښوونځیو تاسیس، د سرا ج الاخبار د جریدې نشریدل، د دار التالیف تاسیس، د حبیبې ښوونځې تاسیس، د چاپ ډبرینه خونه، د تورو او زنګو ګراف او د درسي کتابونو تالیف ددې سبب شو چې د نوي نسل روښان فکران وروزل شي. ددې بدلون په اوږدو کې د



(۱ ـ تصویر) نوې د چاپ خونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲ تصویر)



(۳ تصویر)

لوديځې نړۍ له تخنيکي پرمختګ او د نړۍ له ازادي غوښتونکو بدلونونو سره اړيکې ټينګې شوې: د دموکراسۍ په لسيزه کې د افغانستان په معاصر تاريخ کې د استعدادونو د غوړيدو او د علمي او فرهنګي فعاليتونو د سرته رسولو زمينه برابره شوه. په دې لسيزه کې اديبانو، څېړونکو او عالمانو خپل اثار د پوهې او هنر نړۍ ته وړاندې کړل. په ۱۳۰۲ هـ ش کال کې د صنايعو ښوونځی تاسيس شودا لومړنی هنري ښوونځی و چې (نقاشي، مجسمه جوړونه، معماري او ...) څانګې يې درلودې چې دا د نويو هنرونو د رامنځ ته کيدو پيل و.په دې مرکزونو کې د هنرمندانو روزنې دې ته لار پرانيستله چې د نوی ټولنې له غوښتنو سره سم ګرافيک، تياتر او موسيقۍ ته پراختيا ورکړل شي په دې مرکزونو کې د فارغانو له خوا دکتابونو د تاليف، د هنر په بيلو بيلو څانګو کې د ډول ډول هنري ثارو فعاليت پيل شو. د دې هنرمندانو هنراو هغه هنر ونه چې پخوا په افغانستان کې موجود وو، د هېواد ضرورتونو ته ځواب ورکاوه. په ننۍ نړۍ کې د اړيکو نيول او اطلاعاتي رسنۍ ډير ارزښت لري او بېلې بېلې رسنۍ، لکه: ورځپاڼه، مجله، راديو، تلويزيون، انټرنټ د هنرمندانو د هنر د مختلفو څانګو په غاړه وو چې دا هنرمندان د هنرونو په پوهنځي او د صنايعو په ښوونځي کې پر زده کړو او تحصيل بوخت دي، ترڅو هنري اثار طرحه او سرته ورسوي. د مثال په توګه د ګرافيک د څانګې زده کوونکي زده کوي چې په څه ډول نشانونه طراحي کړي او د مختلفو ورځو له پاره پوسترونه جوړ کړي د ادارو، مؤسسو او شرکتونو لپاره پاکټونه او نښانونه جوړکړي، مجلې او ورځپاڼې څه ډول طراحي کړي، د کتابونو پوښونه څه ډول انځور کړي او د فابريکو د محصولاتو لپاره څه ډول کارتنونه ډيزاين کړي.

هغه کسان چې د تياتر په څانګه کې تحصيل کوي، په مرکز او ولايتونو کې د تمثيل په چارو بوخت دي او يا په تلويزيونو کې تمثلي پارچې وړاندې کوي. ټوکې او فکاهي، هنري ټوټې او له تلويزيون څخه د هغې وړاندې کول د معاصري دورې له ځانګړتياوو څخه دي.ځينې هنرمندان د کاريکاتور يا طنزي تصويرونو د انځورونو فعاليت ترسره کوي او د مجلو او د ورځپاڼو لپاره انتقادي تصويرونه انځوروي.

دا فعالیتونه په ځانګړې توګه په بېلوبېلو مذهبي، اقتصادي، اجتماعي او سیاسي برخو کې زیات ارزښت پیداکوي. په شلمه پېړۍ کې په واقعي شکل د نړۍ په ټکنالوژۍ، اړیکو نیولو، په نوې ښوونه او روزنه او پوهنځیو کې زیات بدلونونه را منځ ته شوي دي. نوی اړتیاوې یې را پیداکړې دي. په معاصر ژوند کې دا فعالیتونه له هنر سره نیږدې اړیکې لري او یا د هنري څانګو له خوا وړاندې کیږي.

د بېلو بېلو څانګو هنرمندانو، لکه: د معماري، نقاشي، ګرافیک، تیاتر او موسیقی هنرمندانو په نوي دوران کې د ښارونو څیرو ته بدلون ورکړی دی او د انسانانو په ژوندانه کې ډېر بدلونونه راغلي دي.



(٤ ـ تصویر) په روغني رنګونو د یوې کوچنی تصویر



(٥ـ تصویر) د معاصرې نقاشي نمونه په مزارشریف کې د سخي صاحب زیارت



(c) ketabton.com: The Digital Library

په ننیو وختوکې یو تلویزیوني تبلیغ او ډیزاین په اقتصادي چاروکې زیات ارزښت لري او هغه هنرمندان چې دا دنده پر غاړه لري، باید د کارکولو او د طرحو د وړاندې کولو د بېلو بېلو طریقو زده کړه وکړي. سربیره پردې د هنر ځینې څانگې، لکه: گرافیک، کاریکاتور او سینما نړیواله جنبه لري چې د دې څانگو دهنري اثارو وړاندې کوونکي په نړیوالو سیالیوکې په فرهنگي او هنري چارو بوخت دي. له دې امله ده چې د نوي افغانستان ډېر هنرمندان په نورو هیوادونوکې په هنري فعالیتونو بوخت دي، ځکه چې هنر پوله او سرحد نه پیژني او د انسانانو په روح باندې خپل تاثیر پرېږدي. د افغانستان معاصر هنرمندان هڅه کوي چې د افغاني هنر او هنرمندانو په پیژندنه سربیره نړیوال معاصر هنرته لاره پیداکړي.

او خپل هنر او فرهنگ په نې چوکاټ کې بیان کړي.



(٦ تصویر) دکتاب په وزرو دگرافیک طرحه

**تمرین**:

۱ـ له کوم معاصر هنر سره مینه لرئ؟

۲ـ هغه پوسترونه چې په جادوکې یې وینئ، په ځیر سره وگورئ؟ هغه په کومو طریقو خپل پیام خلکوته لیږدوي؟

۳ـ د کومو ادارو او موسساتو نښانونه پیژنئ؟ آیا تر اوسه مو د بانکونو نښانونوته پاملرنه کړې ده؟

٤ـ د تلویزیون د پروگرامونو په طراحی کې کوم هنرمندان برخه لري؟ د کالیو په طراحۍ، دیکور، رڼا اچونه، د موسیقي په انتخاب، لاربښودنه او ... پروگرامونوته پاملرنه وکړئ.

۵ ـ د کاریکاتور د طراحی موخه څه ده؟





(c) ketabton.com: The Digital Library


٣



# په مصنوعي موادو ټاپه کول

## په باطله موادو کوم کارونه سرته رسولۍ شئ؟

ستاسي په شاوخواکې داسي مواد وجود لري چې د استفادې وړ نه دي او کولی شو چې د ټاپه کولو لپاره ترې ګټه واخلو. خپلې شاوخواته ښه وګورئ هغه مصنوعي مواد چې د ټاپه کولو وړتیا لري، را ټول کړئ، لکه: بیکاره تنۍ، الپن، کرېږ ستنې، سرپوښ، د غاښو د کریم تیوب، د اورلګیت خالي قطۍ او ... او همدارنګه کولی شئ چې د اوسپنیزو لویو او وړو سکو لکه (یوه افغانیګي، ۲ افغانیګي، ۵ افغانیګي) څخه ټاپه جوړه کړئ. د



(۲ـ تصویر) ټاپې په اشنا شکل بدلې شوي دي




(۱ تصویر) په مختلفو طبیعي موادو ټاپه کول (۳ ۳) ـ



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- تصویر) د بنکلو طرحو لپاره له مصنوعي مواد څخه ګټه اخیستنه.



(٤ تصویر) له مصنوعي موادو څخه د نقاشی تکمیل شکل

د اسفنج له ټوټو، د کاغذ له وړوکې ټوټې او له پلاستیکي کڅوړو څخه په ټاپه کولو کې ګټه اخیستل کیږي. له دې موادو څخه په عادي او یا پلاس ټینګ شوي حالت کې کار اخیستل کیږي. هغه په بیلو بیلو رنګونو ککړ کړئ او په یوه سپین کاغذ یې ولګوئ او بیا په ډیر ځیر سره ورته وګورئ او وروسته د خطو په مرسته نوی شکلونه ترې جوړ کړئ.



**تمرین:**

۱ـ ایا د څو ډیزاینونو له یوځای کیدو څخه بېل بېل شکلونه جوړولی شئ؟ او د ټاپې په منځ کې نوی ارتباط منځ ته راوړی شئ؟

۲ـ له ټاپو څخه په ګټه اخیستنه په خپله خوښه انځور وکاږئ.

۴

# په خټو کې شبکه جوړونه:

**شبکه جوړونه مو په کوم ځای کې لیدلې ده؟**
**ستاسې په فکر ولې خلک شبکه جوړوي؟**

له اسلامي ډیزاینونو څخه په الهام اخیستلو چې له هغې سره اشناشوي یاست، د خپلې خوښې له ډیزاین څخه یوه شبکه جوړه کړئ. ددې کار لپاره مناسبه اندازه کاغذ چې د یوې تختې کاغذ $\frac{۱}{۴}$ برخه ده.




(۱ ـ تصویر) له خټې څخه تیار شوې ده.

دخټو یوه صفحه د یوه سانتي متر په پنډوالي جوړه کړئ چې ستاسې له ډیزاین سره برابره وي. د هغې د تیارولو لپاره لومړی د خټو صفحه، په لاسو هواره کړئ، وروسته یې د اش گز یا پر یو بل شي باندې ښوی (هواره) کړئ.




(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲ ـ تصویر) د ختې په صفحه باندې
په کاغذ کې ډیزاین کیښودل کیږي.

د ختې له صفحې له تیاریدو څخه وروسته، په کاغذ کې انځور شوی ډیزاین د هغې په مخ کیږدئ او د خطونو په سر داسې خطونه وباسئ چې په خته یې نښانې پاتې شي. په لازمو وسیلو په خته باندې کوم خطونه چې پیداشوي دي د یوې پلاستیکي چاړې په واسطه ژور کړئ او اضافي خته ترې پورته کړئ. په اخیر کې یې د لاس



(۳ ـ تصویر) ډیزاین د ختې صفحې ته
انتقال شوی دی او د کارولو وړ دی.




(c) ketabton.com: The Digital Library

په واسطه ښوی (هواره) کړئ. تر وچیدو وروسته شبکه شوي صفحه په داسې رنګو ورنګوئ چې ښکلا یې لازیاته شي.




(٤ ـ تصویر) د ختې اضافه برخې د ختو له صفحې څخه وباسئ.



(٥ ـ تصویر) د ختې صفحه شبکه کاري شوي ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦ ـ تصویر) شبکه شوې صفحه رنګه کړئ ترڅو ښکلې شي.



**تمرین**:

د شبکې جوړولو لپاره نور کوم مواد مناسب دي؟ هغه پیدا کړئ او د شبکې جوړونې یوه نمونه جوړه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵

# د لویدیځ هنر




## ایا پوهیږئ چې د معاصر هنر ریښې په کومو دورو پورې اړه لري؟

(۱ ـ تصویر) د ((سان پیترو)) کلیسا د میکانژ اثرایتالیا روم ۱۵۶۹ م

رنسانس په لغت کې (بیازیږېدنې) ته وایي. داسې ویل کیږي چې ایتالیایي هنرمندانو د یونان هنري او لرغوني روم ادبي او هنري طریقو او روښونو ته مخه وکړه.له همدې امله ددې دورې نقاشۍ او مجسمې جوړونې طبیعت ته ورته والی لري. په دې دوره کې ډېر مهم هنرمندان لکه ((داوینچي))، ((میکل آنژ)) او ((رافایل)) دي.

۱،۲،۳ او ٤ تصویرونو ته پاملرنه وکړئ.

(۲ ـ تصویر) اخیرنی ماښام دایوه د یوالي نقاشي ده چې د ((لئوناردو داوینچي)) اثر دی
د صومعې په دیوال (د راهبانو د ډوډۍ خوړلو ځای) ((سانتا ماریا دله مراتسیه)) د ایټالیا په میلان کې ۱٤۹۸ـ۱٤۹۵ م



په دې دوره کې د انسان د بدن طبيعي تناسبانو، تون ( د رنګ درجه يا تيزوالی او تت والی) (سيوری او روښنايي) رياضي، هندسي او پرسپکتيو (لرې او نيږدې) په نقاشۍ، مجسمه او معمارۍ کې زيات ارزښت درلود. انسان او د هغو د ښو ښودنه ددې دورې له هنري کارو څخه وه. دا هنري بڼې او حالتونه له ايټاليا څخه ټولې اروپا ته وغزېدل. د بېلو بېلو هنري څانګو هنرمندانو تر ۱۷ ميلادي پېړۍ پورې د رنسانس له دورې څخه تقليد کاوه تر هغې وروسته د ((باروک)) هنرمندانو لکه ((رامبراند)) په نقاشۍ کې نوې طريقې په ځانګړې ډول له نور او سيوری څخه په ګټه اخيستلو کار پيل کړ. ۵ تصوير ته وګورئ



(۳ـ تصوير) د (سستيني) د کليت په چت نقاشي د (ميلانژ) آثر واتيکان روم ايټاليا ديوالی نقاشۍ ۱۵۰۸ تر ۱۰۱۲ پورې.



(٤ ـ تصوير) د (( د آتن مدرسه)) د ((رافايل)) آثر په واتيکان، روم، ايتاليا کې ۱۵۰۹ ـ ۱۵۱۱ ميلادي



(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه ۱۸ میلادي پیـړۍ کې هنرمندانو شـاعرانه خیالاتـو، لیدنو، عواطفو او احساسـاتو ته مخه وکـړه او پارونکي رنګونـه او طراحي یې انځور کـړي او رومانتیزم یې منځ تـه راوړ. درومانتیزم مشهور نقاشان ((دولاکروا)) او ((ژایکو)) نومونه د یادولو وړ دي. ٦ تصویر ته وګورئ

وروسـته د اکاډومی اسـتاذان، لکه: ((انګر)) او ((داویـد)) د دویم ځل لپاره د رنسـانس دورې تـه را وګرځیدل او په هنـري موضوعاتو کې یې د (پخوانیـو) طریقـو څخه پیروي وکـړه او نوی کلاسـیزم یـې منـځ تـه راوړ ۷ او ۸ تصویر ته وګورئ.


(٥ ـ تصویـر) پخپله د نقاش څیره د ((رامبراند))
اثر ۱٦٥۹ ـ ۱٦٦۰ د باروک هنر

نور هنرمندان، لکه: ((میله)) او ((ګربه)) هغوی نوي طریقې او روشـونه کارول او د رومانتیزم له شاعرانه خیالاتو او احساساتو څخه تیر شول او د هنـر له اکاډمیکو اصولو څخه یې فاصله ونیوله. دوی په خپلو اثاروکې د خلکو د ربښتیني ژوندانه پـه انځورولو پیل وکړ. لـه دې امله د دوی د کار موضـوع د کارګرانو ژونـد، د کلیوالو ژوند او د ټیټې طبقې ټولنه وه او ریالیزم یې منځ ته راوړ.

**تمرین**:


(٦ ـ تصویر) د امپراتورې د یوه ((سـپور افسـر))
تابلو د ((ژریکو)) اثر ۱۸۱٥ م د رومانتیزم هنر



(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦ تصویر) د (هوارس د ورونو) د نقاشی تابلو د
(دارید) آثر په ۱۷ ۸٤ م د کلاسیزم هنر.



(۷ تصویر) د وږو ټولوونکو نقاشي. د میلهٔ اثر ۱۸۷۵ م د ریالزم هنر

۱ ـ ددې درس د نقاشي اثار سره مقایسه کړئ.

۲ـ ددې درس په تصویرونو کې کوم توپیرونه وینئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۶

# د کليزې ډيزاين او نقاشي

## تر اوسه مو څو ډوله کليزې ليدلي دي؟

ډيزاينران څو ډوله کليزې لکه جيبي، سرميزي، د يوالي او ... جوړوي ترڅو خلك له هغې څخه ګټه واخلي. دا کليزې په يوه کال کې د ورځو، اونيو او مياشتو تاريخ راښيي او د بېلو بېلو ډېرو ښکلو ډيزاينونو درلودونکي دي. ډيزاينران د کال د مياشتو او فصلونو اړوند ښکلو تصويرونو، ډيزاينونو او نقاشي شوي انځورونو څخه ګټه اخلي.



(۱ تصوير) د لمر د سترګې تودوخه څه ډول په نقاشۍ کې ښودلې شئ.



(۲ ـ تصوير) په مني کې د ونو پاڼې کوم رنګونه غوره کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

کومې موضوعګانې تاسې د پسرلي او اوړي په فکر کې اچوي؟ کومې میوې تاسې ته منی دربه یادوي؟ د ژمي کومې منظرې ستاسې په خیال کې ګرځي؟ تاسي یوه کلیزه یا جنتري څه ډول ډیزاین کوئ؟
په دې اړه کوم فکر چې ستاسي په خیال کې ګرځي هغه په پام کې ونیسئ او بیایې ډیزاین او انځور کړئ. ستاسې کلیزه په څلورو فصلو ویشل کیږي او دولس بېلې بېلې میاشتې لري.





(۳ ـ تصویر) په اسکاندیناوي کې د کلیزې یوه پاڼه



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library




(٤ ـ تصویر) په ایران کې د یوې کلیزې یوه برخه ډیزاین شوې ده.

د یوه کال د ښودلو لپاره له کومو تقسیم بندیو څخه ګټه اخلئ؟ کوښښ وکړئ چې د هر فصل او دولس ګونو میاشتو لپاره هغه تصویرونه، ډیزاینونه او نقاشي پیداکړئ چې د هغوی بیانونکي وي.





(٥ ـ تصویر) په امریکا کې ډیزاین شوې کلیزه



طبیعي منظرې د کال په مختلفو فصلونو کې څه توپیرونه لري؟




(٦ ـ تصویر) په ایران کې ډیزاین شوې کلیزه




(۷ ـ تصویر) په چین کې ډیزاین شوې کلیزه



**تمرین**:

۱ ـ یوه دیوالي کلیزه ډیزاین کړئ او هغه په رنګه انځورونو ښکلې کړئ.

۲ ـ څلور کسیزې ډلې جوړې کړئ. د هرې ډلې غړي دې د کلیزې په لیکنو او رسامۍ باندې سره خبرې او مشورې وکړي او تصمیم دې ونیسي. وروسته دې د ډلې هر غړی په یوه پاڼه کاغذ کې د کلیزې یوفصل جوړ کړي. کاغذونه سره وصل کړئ. جنتري یا کلیزه ترې جوړېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۷



## د غرب معاصر هنر

### د شلمې پیړۍ په هنرونو پوهیږئ؟

په ۱۹ میلادي پیړۍ کې مُدرن نقاشي غورځنګ د امپرسیونیېم په نوم منځ ته راغئ. د فرانسې ځوانونقاشانو د هنري کارګاه (کارځای) څخه د باندې په نوي طریقه نوي موضوعګانې نقاشي کړې. دې نقاشانو په خپلو اثاروکې د نور او رنګونو پر یوبل باندې د اغیزې کار پیل کړ او ډیر تور سیورې یې څنګ ته پریښودل. دوې د نقاشي لپاره د ورځې د هر مهال او په ډیره بیړه یې رنګه خپې (لکې) کیښودې ترڅو نور، رنګ او موضوع په ځانګړو شیبو کې تمثیل کړي. لومړي تصویر ته وګورئ.



(۱ تصویر د رود په غاړې منظره د (مونه) اثر امپرلیتونیزم هنر په روغني رنګو۱۸۸۰ م کال


کوبیزم (هندسي شکلوته تمایل) د شلمې میلادي پیړۍ مهم هنري غورځنګ دی. د امپرسیونستانو پر خلاف چې هڅوی په ځانګړو شیبو کې نور او رنګ ته پاملرنه لرله، کوبیستانو د حجمونو او هندسي ساده شکلونود بېلا بېلو زاویو دلیدلوپه پام کې نیولو سره نوو ترکیبونو په انځورولو کار پیل کړ. دوی یوه موضوع له مختلفو زاویو څخه ډیزاین او طراحي کوله او بیابه یې همدا تصویرونه یوځای کول، ترڅو وکولی شي له مختلفو طرفو څخه یې په نقاشۍ کې وښيي. کوبیزم د طبیعت د تقلید په ځای د لیدنې او ذهني هنر ته مخه وکړه.

۲ـ تصویر ته وګورئ:

په اروپا کې یوبل ډېر مهم او مدرن هنري غورځنګ اکسپرسیونیزم دی. د اکسپرسیونیېم هنر مندانو د خپلوعواطفو د بیا نولو له پاره له رنګونو څخه په ذهني ډول ګټه اخیستله. ۳ تصویر وګورئ. دوې در نګو په تغیرولو، په شکلونو کې مبالغه او واقعي تناسبونو ته تغیر ورکول په موضوعګانو کې د خپل دروني احساس بیانول پیل کړل.




(۲ ـ تصویر) د ((پیکاسو)) اثر د کوبیزم هنر



(۳ ـ تصویر ((فریاد)) د ((مونک))
اثر روغني رنګ او د تمپرا رنګونه.
د اکسپرسیونیزم، هنر ۱۸۹۳ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوربستانو او اکسپرسیونیستانو له تجربو وروسته طبیعت تـه ورته ذهنـي او خیالي تصویرونه په نقاشـی کې ځای پرځای شول چې د رسانس له دورې څخه د امپرسیونستانو تـر دورې پورې یـې رواج درلود. له همدې املـه ((انتزعـي)) او د سـومالیزم هنرونو ته لاره خلاصـه شـوه او هنرمندانـو له واقعي عالـم څخه خیالي او فکري یا ذهني دنیا او خپلې باطني نړۍ ته مخه وکړه.




(٤ـ تصویر) (( تداوم خاطره)) د ((دالی)) اثر روغني رنگ د سوریالیزم ۱۹۳۱ م

٤ او ٥ تصویرونه وگورئ. هنرمندانو وروسته موضوعگانې له نقاشـی څخه بیلې کړې او د خطونـو او رنگونو په ترکیـب یې پیل وکړ او ابسترک هنر یا (تجریدي هنر) یې منځ ته راوړ.

٦ او ۷ تصویر ته پام وکړئ.

لـه هغه وروسـته د شـلمې پیړۍ پـه دویمه نیمایـي کې په هنر کې نـوې طریقې مطرح شـوې. په هنري اثر کې هغه مفهوم د پست مدرن پیل و چـې د هنرمند د خیال او فکر څخه یې زیات ارزښت درلود.

د هنر مند موخه د پست له مُدرنیست څخه داوه چـې مخاطب فکر کولو او د هنري اثر درک کولـو، بیانولـو او واقعیـت ته متوجه کـړي، نو لـه دې امله پـه هنري اثـر کې د لیدونکي خیال او فکر، موندنې له پخوانیو د ورو څخه زیات ارزښت پیداکړ.




(٥ـ تصویر) ((بې حرکته وخت)) د ((ماگریت)) اثر روغني رنگ د سوریالیزم هنر ۱۹۳۸ م




(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- تصویر) د ((کله)) اثر د ورځ پاڼې په کاغذ په روغني رنګ انتزاعي هنر ۱۹۳۸ م



۷ - تصویر) ترکیب بندي د ((موندریان)) اثر، تجریدي هنر ۱۹۲۰ م



۸ - تصویر) یوه چوکۍ، د کوسوت اثر، د چوکۍ تصویر او لیکنې، د پست مُدرن هنر ۱۹۶۵ م



**تمرین:**

مدرن هنر او پست مدرن هنرونه د سوریالیزم له هنر څخه مخکې هنرونو سره څه توپیر لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۸

# له بیکاره کاغذي قطیو څخه د لاسي کار جوړول



**په بې کاره قطیو باندې څه کوئ؟**
**آیا کولی شئ چې له هغې څخه ابتکاري حجمونه جوړ کړئ؟**

زموږ په شاوخواکې ډیر لوښي موجود دي چې له هغو څخه د هنري فعالیتونو لپاره ګټه واخلو. تر اوسه مو د سیم یا میخ،طبیعي موادو او بیکاره کاغذو څخه ښکلي ابتکاري شکلونه جوړ کړي دي. اوس غواړو چې له مقوا قطیو، لکه :د اورلګید قطی، د میوو د اوبو قطی، دکاغذي دسمالونو قطی، د غاښونو دکریم قطی، د چای قطی او ... دا ټول تجربه کړئ. ددې لوست تصویرونو ته پاملرنه وکړئ. د میوو د اوبو د قطیو او دکاغذي دسمالونو له قطیو څخه مو پیکپ موټر جوړ کړئ دی. ددې لاسي کار مرحلوته پام وکړئ. له بیکاره قطیو څخه د لاسي کار جوړول په دوو طریقو سرته رسولی شئ. په لومړي طریقه کې قطي ځنګ په ځنګ کیږدې ترڅو وګورئ چې د کوم شکل د جوړلو لپاره مناسب دي. په دویمه طریقه کې د خپلې خوښې شکل وټاکئ. وروسته د خپلې خوښې د شکل متناسب قطی راټولې کړئ او هغه جوړ کړئ. د مثال په توګه د بیلو بیلو وسیلو، لکه: سرویس، الوتکه، بیړۍ،ګرځندی موټر، موټرسیکل او .. وروسته بیا هغه قطی چې تاسې ټاکلي دي چې د جوړیدو لپاره مناسب وي را واخلئ، قطی ستاسې د خوښې د



(c) ketabton.com: The Digital Library

شکل په شان سره ونښلوئ ترڅو ستاسې شکل جوړشي. کولی شئ د قطیو اضافي برخې په بیاتي قطع کړئ او ځینې نورې برخې یې د خپل خوښ شوی شکل په شان جوړې کړئ. (د پیکپ موټر د تیر تصویروته پام وکړئ) وروسته یې په رنګه کاغذونو و پوښوئ او یا هغه رنګه کړئ چې ښکلی شي د کار په اخیر کې، د موضوع جزئیات جوړ او لاسي کار مو تزئین یا ښکلی کړئ.




(۱ ـ تصویر) بیکاره قطی



(۲ ـ تصویر) د اوبو د میوې قطی د ټایر په شکل بیاتي شوی دي




(۳ ـ تصویر) بیکاره قطی د پیکپ موټر په شکل سره نښلول شوي دي



(٤ ـ تصویر) د قطیو مخونه په رنګه کاغذ پوښل شویدي، ښیښې او نور جزئیات پرې اضافه شوي دي

**تمرین:**

له مقوا قطیو څخه د خپلې خوښې موضوع جوړه او ښکلا ورکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

٩



# د هندسي ډيزاينونو کاپي کول

## آيا د جام منار د خښتو ډيزاينونه مو ليدلي دي؟

مسلمان هنرمندان له هندسي شکلونو څخه په ګټه اخيستنه د بيلو بيلو اثارو په ښکلاکې د ډير زيات مهارت درلودونکي دي.

هندسي ډيزاينونه له هندسي قاعدو سره سم انځوريږي. دا ډيزاينونه د ودانيو د ښکلا لپاره کارول شوي دي، ځکه چې هندسي ډيزاينونه خښتې او کاشي چې د مسطيل او مربع په شان وي، کارول يې اسان دي.

د هندسي شکلونو منظم تکرار چې ديوالونه يې پوښلي دي، ودانيو ته يې ځانګړې ښکلا وربخښلې ده. ځينې ډيزاينونه د هندسي سطحې څخه ترکيب شوي، لکه: مثلثونه، مربع ګانې او څو ضلعي او ځينې نور يې د هندسي سطحوله ليکنو سره يو ځاې رغلي دي. د جام د منار ډيزاينونه چې په هندسي سطحو جوړ شوي دي په غور وګورئ په هغوکې د «الحکم الله» جمله چې په هندسي سطحو کښل شويده له ليکنې سره مقايسه کړئ. په ټولو طرحوکې د هندسي سطحو او د هغې اخيرنې ترکيب ته توجه وکړئ. وګورئ چې هنري ذوق د هندسې له علم سره څه ډول ارتباط پيدا کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترس له کاغذ څخه په ګټه اخیستنه سره هندسي بېل بېل ډیزاینونه په ډبل کاغذ او یا مقوا باندې کاپي کړئ وروسته هغه د لاندې ډیزاین په شکل رنګه کړئ.




(۱ ـ تصویر) ډیزاین د ترس کاغذ په واسطه پلي شوي دي



(۲ ـ تصویر) دبیلو بیلو برخو ډیزاین رنګه شوي؟



(۳ ـ تصویر) د هندسي شکلونو ډیزاین جوړ شوی دی



**تمرین:**

۱: په کومو تصویرونو کې هندسي شکلونه وینئ؟

۲: ستاسي په چاپیریال کې هندسي شکلونه موجود دي، هغه پیداکړئ او د هغوی نظم ته پاملرنه وکړئ.

۳: د یوه ساده هندسي شکل له ډیزاین څخه یوه کاپي جوړه کړئ او بیایې رنګه کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

١٠

# د افغانستان له هنري موسسو سره اشناکيدل

## ايا پوهيږئ چې هنرمندان په کومو موسسو کې تحصيل کوي؟

په افغانستان کې دهنرمندانو د روزلو لپاره د زده کړې بېلې بېلې مؤسسې شتون لري. د هنر علاقمندان کولی شي په دې مرکزونو کې د هنر په مختلفو څانګو کې تحصيل وکړي چې عبارت دي له:

- **د کابل د صنايعو نفيسه ښوونځی.** د ا ښوونځی د پروفيسور غلام محمدخان ميمنګي په وړانديز په ۱۳۰۲ هـ ش کال کې تاسيس شو، ترڅو علاقه لرونکي په بيلو بيلو څانګو، لکه: نقاشي، انځورګري، مهندسي، سراميک، نجاري، اوبدل(بافت) طباعتي کې تحصيل وکړي. له دې ښوونځي څخه ډېر تکړه استادان چې په شرق کې يې ساری نه درلود، فارغ شوي دي، لکه: استاذ (غوث الدين خان)، استاذ کريم شاه خان استاذ خير محمد خان عطايي او استاذ خيرمحمد خان ياري.
- **د غلام محمد ميمنګي ښوونځی**: دا ښوونځی د محمد ظاهر شاه د سلطنت په دوران کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په چوکاټ کې جوړشو. د ظريفو او ښکلو هنرونو يا کورسونو په نوم يادېده چې په لومړنيو وختو کې يوازې انځورګري په کې تدريس کيدله وروسته بيا دا ښوونځی د غلام محمد ميمنګي په نوم ونومول شو چې بيلې بيلې هنري څانګې، لکه: مجسمه جوړونه، ميناتوري په هغې باندې ورزياتې شوې. په دې ښوونځي کې د استاد خيرمحمد خان عطايي او استاد خير محمد خان ياري په څېر ډېر زده کوونکي وروزل شول.
- **د ښکلو هنرونو پوهنځی**: د ښکلو هنرونو ديپارتمنت په لومړنيو وختو کې د ادبياتو د پوهنځي په چوکاټ کې د سردار محمد داود خان د جمهوريت په دوران کې تاسيس شو. په ۱۳۶۳ هـ ش کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه جلا او د ښکلو هنرونو د پوهنځي په نوم ونومول شو. په دې پوهنځي کې د نقاشي ،ګرافيک ، تياتر، موسيقی او د مجسمې جوړونې ديپارتمنتونه شتون



(c) ketabton.com: The Digital Library

لري چې ډېر تکره او تجربه لرونکي استاذان د هنر په بېلو بېلو څانګو کې د شاګردانو په روزنه بوخت دي.





● **د کابل د خراباتو ښوونځی**: دا ښوونځی د لومړي ځل لپاره د اصيلې افغاني موسيقي د زده کړې لپاره د استاذ قاسم افغان ، استاذ غلام حسين، قربان علي خان او استاذ پياراخان لخوا د موسيقي د زده کړې لپاره تاسيس شو. په دې ښوونځي کې زده کوونکو د اواز ويل، د موسيقی د آلو غږول په مسلکي ډول زده کول ترڅو په جشنونو، دولتي او رسمي محفلونو او د ولسونو د خوښيو په مراسمو کې ګډون وکړي او خپل هنر د خلکو خدمت ته وړاندې کړي لکه استاذ قاسم چې په يوه بيت کې داسې وايي:

| | |
|---|---|
| گر ندانی غیرت افغانی‌ام | چون به میدان آمدی می دانی ام |

چې وروسته استاذ رحيم بخش دا شعر په کلاسيک ډول ويلي دي، د دې مکتب زده کوونکو د افغاني اصيل هنر لپاره سترې وياړنې ترلاسه کړي دي. په ځانګړې ډول استاذ محمد حسين سرآهنګ د موسيقي د بابا لقب، د موسيقي د سرتاج لقب د هندوستان د سترو استاذانو لخوا ګټلی دی.

● **د موزيک ليسه**: د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د موسيقي رسمي ليسه ده چې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې په ۱۳۵۳ هـ ش کال کې د سردار محمد داود خان د حکومت په دوران کې تاسيس شوه. په دې ليسه کې سربېره په عالي موسيقي نور مضمونونه، لکه: ساينس، اجتماعيات، ادبيات هم تدريس کيږي. د موسيقي په برخه کې نامتو استادان، لکه: استاذ فقير محمد ننګيالی، استاذ اسماعيل عظيمي او استاذ سليم سرمست موسيقي په علمي توګه تدريس کوله. د دې ليسې زده کوونکو په ډلېزو ترانو کې چې د ملي ټلويزيون څخه به ښودل کيدې، ګډون درلود. په دې ليسه کې کلاسيکه موسيقي هم تدريس کيده.

**تمرين**:

۱ ـ ايا پوهيږئ چې په راډيو ټلويزيون کې کوم هنرمندان مرسته کوئ؟

۲ـ د هغو کسانو ترمنځ چې د خپلې علاقې له مخې هنر سرته رسوي او هغه کسان چې له هنري ښوونځي څخه فارغ شوي وي کوم توپيرونه لري؟

۳ـ هغه څوک چې د هنري ښوونځيو څخه فاغيږي کوم کارونه سرته رسوي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

11



# له شعر څخه انځورګري

## د یو داستان یا دیو ښکلي شعر له اوریدو وروسته څه احساس درته پیداکیږي او کوم تصویرونه مو په ذهن کې درګرځي؟

کله چې د غرو او د هغو د لمنو، ګلانو،دښتو، وګړو، وطنٍ او ... په هکله یو شعر اورو، داسې احساس کوو چې په هغه فضاکې عملاً شتون لرو یا ددې وګړو او شیانو سره اړیکه لرو. دا خیالونه کولی شو چې د انځورونو په بڼه بیان کړو. په دې ترتیب سره هر وګړی کولای شي چې د خطونو، شکلونو او رنګونو په ژبه خپل احساس نوروته بیان کړي.هغه تصویرونه چې د یوه شعر د لوستلو څخه ستاسې په ذهن کې درګرځي، په خپله خوښه رسامي کړئ. وروسته هغه رنګونه چې د شعر له فضا سره همغږي کوي، په هغه یې رنګه کړئ، خپل کارته په غور سره وګورئ او فکر وکړئ چې نور کوم کوم شیان پرې اضافه کړئ چې د شعرله فضا سره زیاته همغږي پیداکړي او هرڅه مو چې د شعر په هکله په فکر کې ګرځي، پرې زیات یې کړئ ترڅو ستاسې تصویر شعر ته ورنیږدې شي.





(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱ ـ تصویر) له شعر څخه نقاشي د (فرشتې آثر)

**تمرین**:

یوشعر چې تاسې ته په زړه پورې وي، انتخاب کړئ او بیا له خپل ښوونکي سره مشوره وکړئ، یو تصویر انځور کړئ چې د شعر مفهوم د شکلونو او رنګونو په بڼه بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲



# له کمپیوټر سره آشنايي

## ايا تراوسه مو په کمپيوټر کار کړی دی؟

کمپیوټر هغه دستګاه ده چې د برېښنا (برق) پواسطه کارکوي چې مختلف امکانات لري، لکه: دمتنونو ليکل، انځورګري، ډيزاينونه او د نقاشي بيلې بيلې موضوعګانې په دې دستګاه باندې په ساده‌ګۍ او ډيره چټکتيا سره سرته رسيږي. دا دستګاه له دوو برخو څخه SOFTWARE او HARDWARE جوړ شوي ده. دکمپيوټر HARDWARE مختلفې برخې لري چې يوه له بله سره نښتي يا وصل شوي دي لکه کيس (CASE)، مانيتور (MONITOR)، يا هغه صفحه چې د ټلويزيون صفحې ته ورته ده، دکيبورد صفحه (KEYBOARD) چې د ټايپ صفحې ته ورته ده د (ليکلو او د مختلفو عملياتو لپاره استعماليږي) او موس (MOUSE) چې د يوې وړې دستګاه په مخ (پډ) PAD د کيبورد ترڅنګ قرار لري. د هغې د تڼيو په کې کارولو سره کولی شو چې د مانيتور په صفحه هره علامه فعاله کړو. د CURSOR چې د مانيتور پرمخ حرکت کوي، د موس (MOUSE) سره اړيکه لري او موس ته د حرکت ورکولو په نتيجه کې کولی شو چې د ځای بنود



(c) ketabton.com: The Digital Library

علامې COURSER ته تغيير ورکړو او د فعاليت سرته رسولو ځای، لکه: (د خط ايستل) په نښه يا مشخص کړو. د موس د تڼيو کښيکاږل د کليک CLICK په نوم ياديږي. په معمولي ډول د موس د کيڼې خوا اوښی خوا تڼی د (کيڼ کليک او ښی کليک) په نومونو ياديږي.

د ځينې نورو فعاليتونو سرته رسولو لپاره لازمه ده چې تڼی دوه واره کليک شي چې ډبل کليک ورته وايي.

( SOFTWARE ) په کمپيوټر کې مختلف پروګرامونه شته چې په دستګاه کې وجود لري او په هره يوه يې کولی شو ځانګړي کارونه سرته ورسوو، لکه: ( PAINT )پروګرام چې د رسامی او نقاشی لپاره کارول کيږي چې د وينډوز (WINDOWS) يا د کمپيوټر اصلي پروګرام سره مل دی.کله چې په کمپيوټر کار کوو، نو لومړی بايد هغه روښانه کړو، د کمپيوټر روښانه کيدل د کيس پرمخ تڼی او د مانيتور پرمخ تڼی باندې سرته رسيږي. کله چې کمپيوټر روښانه کوئ، د ويندوز XP په اتوماتيک ډول شروع کيږي او د( WELCOME )صفحه ځرګنديږي.



پورته (۱ ـ تصوير) دکمپيوتر مختلفې برخې



(c) ketabton.com: The Digital Library




(۲ ـ تصویر) د کیبورد صفحه

وروسته (DESKTOP) څرگندیږي دا هغه ځای دی چې کولی شو په بیلو بیلو پروگرامونو باندې کار وکړو. یو شمیر ایکونونه (ICON) د دیسک ټاپ په مخ لیدل کیږي دا په هغه پروگرامونو پورې اړه لري چې په کمپیوټر کې نصب شوي دي او په هریوه یې چې کلیک کړئ فعالیږي. په دې سربیره دا ایکنونه د سټارټ (START) په تڼۍ پیل کولی شو. د سټارټ د تڼۍ په کلیک کولو سره د پروگرامونو جدول خلاصیږي او د ځای ښود (CURSOR) علامه په هریوه باندې باید وساتي، نو یوبل پروگرام خلاصیږي. هر پروگرام مو چې خوښ وي کول شئ د هغې فضا ته ننوځئ په هغې کې یوه کړکۍ خلاصیږي چې ځانګړي امکانات لري. د کار تر تمامیدو وروسته کیبورد باید مړ کړئ. د کمپیوټر د مړه کولو لپاره



(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرور ده چې د وینډوز له XP څخه خارج شئ.
ددې کار لپاره باید د سټارټ مینو ته ننوزئ چې په لاندینئ برخه کې یې (TURN OFF COMPUTER) لیکل شوی دی هغه کلیک کړئ.
یوه وړه کړکۍ خلاصیږي د هغې په منځ کې د ( TURN OFF COMPUTER)
تڼۍ ده هغه کلیک کړئ چې وینډوز XP وتړل شي او کمپیوټر مړ شي.



**تمرین**:
په ټلویزیون کې د کمپیوټر د زده کړې پروګرام ته وګورئ او د هغه په هکله سره وغږیږئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳



# د يوې ساده میناتوري کاپي کول

## آيا کولی شئ چې د ترس کاغذ پرته یوه کاپي جوړه کړئ؟

په اتم ټولګي کې له میناتوری سره اشنا شوي یاست، څه ډول کولی شي چې د یوه ساده میناتور څخه کاپي جوړه کړئ او د خپلې خوښې میناتور وټاکئ. په غور سره د میناتور تصویر، خطونو، ډیزاینونو او رنګونو ته وګورئ.

تر اوسه مو د یوې طرحې او مختلفو ډیزاینونو د کاپي کولو لپاره د ترس له کاغذ څخه ګټه اخيستي ده؟


اوس هڅه وکړئ چې له ترس کاغذ پرته، لومړی هر شکل ته په ځیر وګورئ او وروسته هغه څه چې وینئ په ډیر زغم سره کاپي کړئ. یوه ټوټه کاغذ د میناتور د کاغذ په اندازه راواخلئ او لومړی د شکل لویه برخه په هغه څه چې ستاسې په نظر لوی ښکاري د اصلي طرحې په شان انځور کړئ او وروسته یې د کوچنیو شکلو په انځورولو پیل وکړئ او هڅه وکړئ چې داصلي طرحې په شان یې وکاږئ او خپل انځور تکمیل کړئ.

جوړه شوي طرحه په شکاشتیپ د میز په مخ او یا د رسامۍ د تختې په مخ ونښلوئ. بیا نو رنګونه د اصلي طرحې د رنګونو په شان ترکیب کړئ او



(c) ketabton.com: The Digital Library

همیشه په یاد ولرئ کله چې رنګونه کاروئ، ترڅو پورې  چې یو رنګ وچ شوی نه وي بل رنګ په هغې باندې مه کاروئ، ترڅو وکولی شئ چې د رسم جزئیات په ښه شان پکې ځای پر ځای کړئ. د کار له خلاصیدو وروسته کاغذ د میز له سر اویا د رسامۍ له تختې څخه جلا کړئ او په یوه ښیښه یې په چوکاټ کې وساتئ: له روښانه څخه د تیاره کیدو په لورېې کاپي کړئ.



(۱ـ تصویر) دا میناتور د کمال الدین بهزاد اثر دی.



(۲ـ تصویر) طرحه د ترس کاغذ کاپي شوې ده.



(۳ ـ تصویر) طرحه بل کاغذ ته کاپي شوې ده.



(٤ ـ تصویر) د تصویر رنګه شوې برخې

**تمرین**

له یوې ساده میناتور څخه کاپي کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۴



## د بېلو بېلو سکويونو او ګل ګنډنو سره اشنا کېدل

### ايا پوهېږئ چې په تکه باندې ګلدوزي څومره لرغونتيا لري؟

(تصوير ۱)



د صفويانو په دوره کې افغاني او ايراني سکويونو ځانګړې ظرافت درلود چې نړېوال شهرت يې تر لاسه کړې و. د کندهار او هرات سکويونه امکان لري د هغې دورې محصول وي. په تاسف سره بايد ووايو چې ماشيني ګل ګنډنې، لاسي سکويونه له دود څخه غورځولي دي. په ننۍ نړۍ کې سکوی او ګل ګنډ د هنري ځانګړو يوه دوديزه برخه ده چې په زياترو سيمو کې يې ارزښت د پاملرنې وړ دي ګل ګنډنه هغه هنر دی چې په افغانانوکې له ډېرو پخوانيو زمانو څخه رواج لري چې په ځانګړې ښکلا او ظرافت ترسره کيږي.

ګل ګنډنه د کاليو د ښکلا، پردې، سرميزيو، جای نمازونو، شالونو،



(c) ketabton.com: The Digital Library

خولی او د اس او اوښ د سر د ښکلا لپاره ګټه ترې اخيستل ګيږي.
د ګل ګنډنې طريقې په درو برخو ويشل کيږي. په اوله طريقه کې ټوله د رخت ټوټه په رنګارنګ نقشونو پوښل کيږي. لومړيو تصويرونو ته پاملرنه وکړئ. په دويمه طريقه کې د رخت د ټوټې يوه برخه ګنډل کيږي چې د ګل ګنډنې او د رخت د ځمکې د ښکلا اړيکه په رنګ او ډيزاين کې منځ ته راوړي. دويم تصوير ته وګورئ. دريمه طريقه ددې هنر پر مختللي نمونه ده چې بيل بيل ډولونه لري، لکه: په ((ګراف کې ګنډنه )) چې يوه اندازه بوده او ستنه د باندې را وباسي او په ظريفو بخيو يې ګنډي او د هغې په شاوخوا باندې ګل ګنډنه کوي چې يو نوي ډيزاين مينځ ته راشي.
د ګراف ګنډنې نمونې په دريم تصوير کې وګورئ.




(۱- تصوير) د بخارا ګنډنه



(c) ketabton.com: The Digital Library

د گل گنډنو لپاره د مختلفو ټوکرانو، د وریښمو او سنډو له تارو څخه ګټه اخیستل کیږي. که چیرې ښکلي او تازه وي د طلایي رنګه او نقریي رنګه وریښمو او سنډو څخه دې استفاده وشي چې په نتیجه کې به یو ارزښتناک اثر پر لاس راشي. په څلورم او پنځم شکل کې د طلایي وریښمو او نقریي سنډو دوو نمونوته پاملرنه وکړئ.


۲ـ تصویر) په سنډو ګراف ګنډنه

ډیر مهم ټکي په ګل کنډه کې د هغې کیفیت، طرح، دیزاین او رنګونه دي چې په ډیر ظرافت سره باید سرته ورسیږي او ډیزاینونه یې په دوو ډلو ویشل کیږي، لومړی د ګلانو، وښو، حیواناتو، انسانانو په ځانګړي ډول د ناوي او زوم د کالیو انځورونه په ٦ تصویر کې وګورئ. په دویمه ډله کې هندسي شکلونه ترسترګو کیږي. سربیره پردې کله


(۳ تصویر) په مخمل نقره ګنډنه


(٤ـ تصویر) په تافته باندې په طلایي رنګ سکوی


د ناوي شال په ۱۲ پیړۍ کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

کله د طرحو په منځ کې لیکنې هم ګنډل کیږي. ۷ تصویر ته په ځیر وګورئ. دا د سکوی یوه په زړه پورې نمونه ده چې په ننیو وختوکې د مسلمانانو ترمنځ فکلوریک دود دی. دا نمونه د قران کریم یو آیات دی چې د معظمې کعبې په پرده په طلایي رنګه وریښمو او سنډو په تور مخمل په برجسته توګه ګنډل شوی دی.



(۷ ـ تصویر) په هندسي شکلونو بلوڅي ډیزاین



(۸ ـ تصویر) دکعبې شریفې د پردې پرمخ ګنډل شوی د قرانکریم ایات



**تمرین:**
دګل ګنډیو ه نمونه پیداکړئ او د هغه د رنګ، ډیزاین او دګنډلو طریقه سره پرتله کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۵



## د یوه ساده سکوی (گل گنډ) جوړول

### تر اوسه مو د سکوی څو نمونې جوړې کړي دي؟

د رخت د مختلفو ټوټو دښکلا لپاره له گل گنډنو څخه استفاده وکړئ.

گل گنډل په بیلو بیلو طریقو سرته رسیږي. تاسې کولی شئ چې د یوې ټوټې رخت د ښکلا لپاره د سکوی یوه طریقه انتخاب کړئ. د طرحې د نقلولو طریقې هم خورا زیاتې دي. ماهر گل گنډونکی د طرحې له انتقال پرته د رخت پر ټوټه باندې بیل بیل ډیزاینونه سکوی کولی شي او هغه



(۱ ـ تصویر) په رخت باندې گل گنډ جوړ شوی دی



(۱ ـ تصویر) په رخت باندې گل گنډ جوړ شوی دی


ځوک چې ډېر مهارت نلري، هغوی د کاربن پیپر یا د طرحې د خطونو په سوري کولو باندې د خاورو یا د سکرو میدګې اچوي، ترڅو د رخت پرمخ یې نښې پاتې شي. د ګل ګنډلو د سرته رسولو لپاره، د رخت ټاکل شوي طرحه، رنګه سنډه یا وریښم او د رخت د کلک نیولو لپاره یوه کارګاه تیاره کړئ.

لومړی طرحه د کاربن پیپر او یا د طرحې د سوري کیدو له لارې رخت ته ورنقل کړئ. بیا طرحه په چپه ګنډنه ډکه کړئ چې ډیزاین منظم شي. ددې لپاره چې طرحه مو ښکلې شي د سرو سنډو او یا د وریښمو په واسطه د هغې د منځنی برخې د ډکیدو هڅه وکړئ. په دې ډول طرحه له رنګ څخه ډکه او ښکلې کیږي. په ډکیدو کې یې کوښښ وکړئ چې ستنې په منظم ډول د یوې او بلې په څنګ ولګیږي او د کار هیڅ ځای خالي پاتې نه شي او د طرحې سطحه په رنګه سنډو یا وریښمو وپوښل شي.

د کار په پای کې لازمه ده چې د رخت څلورخواوې قات او ویې ګنډئ چې د وخت په تیریدو یې تارونه راونه وزي. جوړ شوی ګل ګنډ کولی شئ په چوکاټ کې وساتئ او یا هغه د بالښت، دستکول، کالیو او ... لپاره وکاروئ. او هم کولی شئ په دې کار، بالښت، روجایي، د میز پوښ، د کمیس ټټر، د لستوڼو خولې،لمن او داسې نوروته ښکلا ور وبخښئ.



(۳ ـ تصویر) د طرحې د مختلفو برخو ډکیدل



(٤ ـ تصویر) تیار شوی ګل ګنډ



**تمرین:**
یوه طرحه انتخاب کړئ او په هغې کې ګل ګنډنه وکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۶



# د افغاني هنرمندانو پيژندنه

## د معاصر افغاني هنرمندانو د اثارو نمونې مو ليدلي دي؟

### استاذ کريم شاه خان:

کريم شاه خان په ۱۲۹۸ هـ ش کال کې د کابل په ښارکې د خپل ژوندانه لومړنى ورځې پيل کړې. استاذ خپلې زده کړې په عداديه کې سرته رسولي او د رسامۍ هنر يې د صنايعو په ښوونځي کې زده کړ.استاذ کريم شاه خان له ښوونځي څخه تر خلاصيدو وروسته د ښوونکي مقدسه دنده ترلاسه کړه چې ځلويښت کاله يې په پوره ايماندارۍ او اخلاص دغه دنده ترسره کړه او د رسامۍ د هنر د تدريس له لارې يې ډير زده کوونکي وروزل.استاذ د ډيرو عالي اخلاقو او ډير ښه هنر خاوند و.

دده هنري کارونه د رياليزم په سبک برابر ووچې پر طبيعي منظرو سربيره د ځارويو او الوتونکو په سکيچ کولو کې يې ځانګړى استعداد او لياقت درلود.استاد يو کتاب چې د وحشي او اهلي حيواناتو او الوتونکو انځورونه و، تاليف کړ چې په ۱۳۳۲ تر ۱۳۳۳ هـ ش کلونو کې د صنايعو د ښوونځي لخوا طرح او ډيزاين شو او د پوهنې وزارت لخوا چاپ شو. استاذ د شپيتمې کاليزې په اخيرو او د ډاکټر نجيب الله د حکومت په پاى کې په کابل کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

## استاد شبنم:

استاذغلام محی الدین شبنم د عبدالرحمن زوی په ۱۳۱٤ هـ ش کال کې د غزنې په مرکز کې وزیږید. د ابتدایي او ثانوي زده کړو له ترسره کولو وروسته یې خپل لیسانس د فلپین له هیواد څخه لاس ته راوړ او بیرته وطن ته راستون شو. استاد شبنم د لومړي ځل لپاره د کابل په دارالمعلمین کې د هنر د ښوونکي په حیث مقرر شو. د خدمت په ۳۹ کلنه دوره کې د خپلو شاگردانو او کاري اندیوالانو لپاره زړه سوانده اوښه ښوونکی و. ده د خدمت په دوره کې د ملاحظې وړ ویاړنې، لکه: نښانونه، مډالونه، تقدیر نامې ترلاسه کړیدي. استاد شبنم په ابتکاري ارت کې د افغانستان د هنر یو غښتلی او وتلی شخصیت و چې ډیر اثار لري. سربیره پر هنري کارو د هنر په هکله تالیفات هم لري.

د ځوانانو لپاره د نقاشي د تدریس رهنما چې په ۱۳۸۰ هـ ش کال کې چاپ شویده او بل کتاب یې نقاشان معاصر افغانستان چې په ۱۳۸۱ هـ ش کال کې د هجرت په دوره کې چاپ شوی دی، دده د تالیفاتو له جملې څخه دي.



**تمرین:**

د خپل چاپیریال له الوتونکو څخه یو سکیچ کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷

# د قرآني آيتونو برجسته کول



**آيا تر اوسه مو ډبريني او خټينې لرغوني لوحې ليدلي دي؟**
**دا لوحې مو په کوم ځای کې ليدلي دي؟**

زموږ په ګران هيواد کې ډبريني لوحې په بڼکلو ډيزاينونو او يا په اسلامي خطونو ښکلي شوي دي. پخوانۍ ودانۍ په ښکلو ډيزاينونو په ځانګړي ډول په جوماتو کې کارول شوي دي. د اسلامي خطونو څخه په ګټه اخيستنه په ودانيو باندې د قرآني آياتونو ليکنې د ښکلا، تبرک او د لوی خدای (ج) د ذکر لپاره دي. تاسې هم کولی شئ چې د خپل هيواد د نامتو خطاطانو ليکنې پيداکړئ او د هغو له مخې يوه ښکلې خټينه لوحه د خپل کور د ښکلا لپاره جوړه کړئ. لومړی د ښکلي خط يوه نمونه پيداکړئ. د قرانکريم د اياتونو د جوړولو په وخت کې بايد اودس وکړئ. د خطونو څنډې په ډير غور په بياتي



( ۲ تصوير ) طرحه د ختې صفحې ته نقل شويده.



( ۱ تصوير )خټه او صفحه جوړه ده




(c) ketabton.com: The Digital Library

غوڅې کړئ او هڅه وکړئ چې د لیکنې ځای په منظم ډول قطع او د لیکنې ځای خالي شي. تیاره شوي طرحه د ختینې لوحې په سرچې ۲ سانتي متره قطر ولري، کیږدئ او کاغذې طرحه د سنجاق په واسطه په خټه کې کلکه کړئ. د لیکنې ځایونه په یو شي چې نوکه یې ډیره ظریفه وي، په ډیر غور او دقت ژور کړئ بیا کلك شوی کاغذ د لوحې له مخې پورته کړئ، وروسته له هغې د یوه سانتي متر په اندازه اضافي خټه ترې وباسئ چې لیکنه برجسته شي. بیا د لیکنې څنډې ښوی یا صافې کړئ او پرېږدئ چې د خټو لوحه وچه شي. که خوښه مو شوه، نو تر وچیدو وروسته کولی شئ هغه رنګه کړئ او په هغې باندې و رنس ووهئ چې ځلانده شي.



(۳ تصوئر) اضافي خټه له صفحې وباسې.



(٤ تصویر ) جوړه شوی صفحه هواره او ښوی کړئ.

**تمرین**:
د اسلامي خطونو یوه ساده او ښکلي نمونه په برجسته توګه جوړه کړئ او هغه په رنګونو ښکلي کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۸

# په نقاشي کې له(PAINT) پروګرام څخه ګټه اخيستنه

## تاسي کولی شئ چې په کمپيوټر نقاشي وکړئ؟

د (PAINT) له پروګرام څخه د استفادې لپاره لومړی کمپيوټر روښانه کړئ.

کله چې د مانيتور (DESKTOP) پرمخ اصلي صفحه ښکاره شي د سټارټ(START)د تنۍ په کليک کولو سره چې د صفحې په لاندني




(PAINT صفحه په مانيتور کې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کې کيڼ لوري ته ده،(PVOGRAMS) ليکنې ته يوسئ يوه نوي مينو خلاصيږي. په دې مينو کې ځای ښود د ليکنې خواته يو سئ چې بله مينو خلاصه شي. په لست کې (ACCESSORIES ) پيداکړئ او ځای ښود هغې ته ورولئ. په ترتيب يوه بله نوی مينو خلاصيږي چې په هغې کې د (PAINT) پروګرام وجود لري او په هغه باندې بايد کليک شي چې د(PAINT) پروګرام ته ور داخل شئ. د(PAINT) کړکۍ په يوه لويه سپينه او رنګه صفحه کې په اصلي برخه کې شامله ده. کولی شئ چې په هغې باندې انځورګري او نقاشي وکړئ. د دې صفحې په چپ پورتني طرف کې د انځورګری لوښي او وسيلې ليدل کيږي، لکه: پنسل، پنسل پاک، مويک، رنګ او ... په کليک کولو سره هغه فعال کيږي او بيا د موس په حرکت خطونه مشخص کړئ. د پنسل، مويک يا د رنګ په علامو باندې کليک وکړئ او د موس په حرکت د خپلې خوښې خطونه او شکلونه انځور کړئ. وروسته بله علامه فعاله کړئ په هغې باندې په کليک کولو نوي شکلونه د هغې پرمخ وکاږئ.دې کار ته ادامه ورکړئ



(تصوير ٢)



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له ټولو وسيلو سره اشنا شئ: د صفحې په لاندينۍ برخه کې چپې خواته د رنګ پليټ وجود لري چې د تور او سپين په ګډون ۲۶ رنګونه دي. د دې رنګونو د هريوه په کليک کولو کولی شئ د خپلې خوښې رنګ فعال کړئ ترڅو رنګه خطونه او شکلونه رسم کړئ. د رنګ سطل چې د عمودي مينو د پورتنۍ برخې په چپ طرف کې قرار لري دصفحې په لاندې پليټ د هر رنګ په کليک کولو سره کولئ شئ بيلي بيلي سطحې رنګه کړئ.

د صفحې پورتنۍ چپې خوا ليکنوته ځير شي د (IMAGE)تڼۍ کليک کړئ چې کوچنۍ مينو خلاصه شي، په دې مينو کې(CLEAR IMAGE) کليک کړئ چې صفحه بيا سپينه شي اوس در نګ له سطل د خپلې خوښې په رنګ اصلي صفحه رنګه کړئ. وروسته په وسيلو او نورو رنګونو رسامي او نقاشي وکړئ. که چيرې د پليټ په هر يو رنګ کليک کړئ، يوه وړوکې کړکۍ خلاصيږي چې هغه ډير زيات رنګونه ستاسي په واک کې درکوي. تاسې کولی شئ چې د دې جدول هريو رنګ چې ټاکی د OK د تڼۍ په کليک کولو هغه رنګ فعال کړئ. بياکيدلی شي چې رسامي او رنګ اميزي پرې وکړئ. که غواړئ چې د نورو بيلو بيلو رنګو څخه ګټه واخلئ، نو د (DEFINE CUSTOM COLORS)تڼۍ کليک کړئ ترڅو د بيلو بيلو رنګونو جدول ستاسې په واک کې درکړي. د هرې برخې په کليک


(تصوير۳)



(تصوير ٤)



(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو د جدول بېلو بېلو رنګونو درڅې یعنې تیاره او روښانه رنګونه د یوې نرۍ فیتې په مخ د جدول ښۍ خواته لیدلی شئ او په هریوه یې چې کلیک کړئ او بیا د (OK)تڼۍ کلیک کړئ ستاسي د خوښې رنګ فعالیږي. د نوي رنګ تر انتخابولو وروسته (ADD TO CUSTOM COLOR ) کلیک کړئ دا نوی رنګ په رنګه پلیټ کې په اصلي صفحه ور زیاتیږي.

دې پروګرام سره په اشنا کیدو کولی شئ چې بیل بیل تصویرونه نقاشي کړئ او خپل ذهني خیالونه، ابتکاري طرحې، هندسي طرحې او ازاد شکلونه له خپلې خوښې سره سم انځور کړئ.



(تصویر ۶)



**تمرین:**

د(PAINT)پرګروام په مرسته د خپلې خوښې موضوع انځور کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د ملي موزیمونو سره اشنا یي

## د کندهار موزیم:

د کندهار د موزیم لرغوني لوښي او اثار تر ۱۳۳۴ هـ ش کال د ښاروالی د وسایلو سره یوځای ساتل کیدل. په همدې کال کې د کندهار د نایب الحکومه عبدالغني خان په امر او لارښوونه د ښاروالی دفترونه او د موزیم ماموریت سره جلا شول. د موزیم لپاره یوه خونه و ټاکل شوه چې لرغوني آثار د ننداري لپاره په کې په منظم ډول کیښودل شول. په ۱۳۳۹ هـ ش کال کې د پوهنې وزارت د اقدام له مخې موزیم له ښاروالي څخه جلا له ۷۰۰ آثارو سره د پوهنې په مدیریت پوري وتړل شو. ددې موزیم ځینې آثار د دولتي ادارو لخوا اهدا شوي وو او ځینې نور یې له بازار څخه رانیول شوي وو.

## د غزني موزیم:

د لرغونو آثارو د زیاتیدو په وجه چې په یوه خونه کې ساتل کیدل، دغزني د موزیم د تاسیس سبب شول. ددې موزیم اثار ځینې په ناڅاپي ډول لاس ته راغلي دي، لکه: د بیلو بیلو زمانو لرغوني سکې، خطي نسخې، د ډبرو د لوښو ټوټې وې چې د سلطان محمود غزنوي د مقبرې په ودانۍ کې ساتل کیدې. د ایتالوي لرغون پیژندونکو د کیندلو په نتیجه چې د غزني په مختلفو سیمو کې یې وکړې، ډیر لرغوني آثار لاسته راغلل چې ځینې یې له اسلام څخه مخکې او ځینې نور یې په اسلامي دورو پورې تړاو درلود، نو ځکه پس له هغې د غزني موزیم زیات ارزښت پیداکړ. د

غزني د موزيم اثار دوه ډوله دي. يو ډول هغه اثار دي چې تر کيندنو پرته لاس ته راغلي دي، په عمومي ډول د غزني له بازار څخه اخيستل شوي دي، لکه :

قلمي نسخې، ډبرې ، لوحې او فلزي اثار چې د غزني دښار نه دباندې له اطرافو څخه لاس ته راغلي دي، د غزنويانو په دورو پورې اړه لري چې په هغو کې دوې لويې کټوې چې په هغې باندې د مات شوي صليب او په کوفي خط د ليکنو علامې موجودې دي، د زمريانو مجسمې چې په بڼونو د اوبو د فوارو او يا شيندلو استفاده ترې کيده. د مرمرو ډبرې چې په هغې باندې د حيواناتو ځيرې په مجز العقول (د عقل څخه پورته) کيندل شوي وې، سکې، سفالي لوښي، د ښکلا ټوټې چې په غالب گمان يا له ختې او ځينې له محلي گچ څخه دي. ددي اثارو په ډله کې شامل دي.
د غزني د موزيم ارزښت په دوو اصلونو کې نغښتي دی. لومړی دا چې موزيم د غزنويانو د دوران د هنري سبک ښکارندويي کوي او دويم دا چې د غزني د موزيم ځينې اثار له اسلام څخه په مخکې دورو پورې تړاو لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د نهم ټولګي د منابعو فهرست


۱.د نقاشي د تدريس لاربنود د تنکيو ځوانانو او ځوانانو لپاره، غلام محی الدين شبنم ۱۳۸۰کال

۲.د هنر د تدريس د ښوونکو لاربنود د لومړيو، دويمو او دريمو ټولګيو لپاره کود٤/٥٣/سال ۱۳۸۵.

۳.د لاسي چاپ کارګاه فني او حرفوي کود ۲۰/ ۳۵۸، ۱۳۸٤

٤.د نګارګري کارګاه فني او حرفوي کود۲ ٤۹، سال ۱۳۸٦

۵.د ايراني کاشي کاري طرح او اجرا، محمود ماهر التقش. انتشارات موزيم رضاعباسي

٦.د هنر دايرة المعارف، روئيني پاکبار. د معاصر فرهنګ نشر ۱۳۸٦کال

۷.هنر د زمانې په اوږدو کې، هلن ګاردنر. د نګاه انتشارات اوګاه ۱۳۸٦کال

۸.د نقاشی د مکاتب سره آشناييو فني اوحرفوي کود۲/٤۵۰، کال ۱۳۸٦

۹.په تاريخ کې د هنر سير ۲، د پوهنځي نه مخکې کود۸/ ٥۹٤،کال ۱۳۸٦

۱۰.د هنر کارګاه ۲ د پوهنځی نه مخکې کود ۱/ ٥۹٤، کال ۱۳۸٦

۱۱.په شلمه پيړی کې اخيريني مفاهيم او رويکردونه، ادارود لوسي اسميت.

۱۲.هنرمندان روبرت نيتين، نشرنی

۱۳.هنر په مرکزي آسيا کې کالنپوګا خپکوا، اکبر حاکيموف، ترجمه ناهيد.

۱٤.د ايران د لاسي صنايعو سير (مقالو مجموعه) چې کلارک، د ايران، تهران د ملي بانک انتشارات

۱۵.د خط د هنر پیدایښت او په هغې کې د تحول سیر، جواد یساولی ثانی. د فرهنگسرا انتشارات

۱٦.د افغانستان فشرده تاریخ، فاروق انصاری. د مطالعاتو مرکز، کابل، ۱۳۸۳ کال

۱۷.د افغانستان مهاجر نقاشان، غلام محی الدین شبنم غزنوی. د یونسکو دفتر، ۱۳۸۱ کال

۱۸.موزیم پیژندنه او د موزیمونو سیر په افغانستان کې.

۱۹.خودآموز گام به گام Windows- Meid Center ، مرتضی نوریان او نرگس نوریان، زینت حسیني رامشه د بیشه انتشارات، کال ۱۳۸٤.

۲۰.EMBROIDERY FOR FUN, ۱۹۷٤, BY ONDORISHA PUBLISHERS.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**